# Nova Scotia Lunch Program

** دا اوسمهال د هالیفیکس سیمه ییز ښوونیز مرکز (HRCE) په 75 ښوونځیو کې وړاندیز کیږي او په نږدې راتلونکي کې ټولو ښوونځیو ته غځېدنې پلان لري.

د غرمې ډوډۍ نووا سکوشیا (NS) پروګرام په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره په مهربانۍ سره دلته کلیک وکړئ. د ژباړې لپاره د پاڼې پر پورتنۍ ښي خوا

کلیک او پر وژباړئ (translate) تڼۍ کلیک وکړئ.

| English | Pashto |
| --- | --- |
| The Nova Scotia School Lunch Program is a provincial lunch program that offers public school students in Nova Scotia nutritious and affordable lunch every school day. All schools will continue to have the free breakfast program. | د نووا سکوټیا ښوونځي د غرمې ډوډۍ پروګرام یو ولایتي پروګرام دی چې د نووا سکوټیا په عامه ښوونځیو کې زده کوونکو ته د ښوونځي په هره ورځ مغذي او ارزانه غرمنۍ برابروي. ټول ښوونځي به سهارنۍ وړیا پروګرام هم ولري. |
| Chefs and dietitians worked to make sure all lunches are nutritious and considered cultural preferences so students are provided with a mix of familiar favourites and new flavours. Some of the lunches will be hot meals. There is a School Food and Nutrition Policy that ensures all food in our schools is healthy and nutritious. | سراشپز او د خوړو رژیم متخصصینو کار کړی ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې ټولې غرمنې مغذي دي او کلتوري غوره توبونه په پام کې نیول شوي، تر څو زده کوونکو ته د هغوی د خوښې خواړه او نوې خوندونه وړاندې شي. ځینې غرمنې به د ګرمو خوړو په بڼه وي. د ښوونځي د خوړو او تغذیې تګلاره شته چې ډاډ ورکوي چې په ټولو ښوونځیو کې خوراکي توکي صحي او مغذي وي. |
| Lunches are affordable for every family. You can pay-what-you-can; this means families can choose to pay the full cost of the lunch, pay a part of the cost, or pay nothing. What you pay is kept confidential from school and lunch program staff. | غرمنې د هرې کورنۍ لپاره ارزانه دي. تاسو کولی شئ د خپل وس مطابق پیسې ورکړئ؛ دا په دې معنی ده چې کورنۍ کولی شي د غرمنې بشپړ لګښت، یوه برخه یا هیڅ شی ور نه کړي. هغه پیسې چې تاسو یې ورکوئ له ښوونځي او د غرمنې پروګرام کارکوونکو څخه پټې او محرمې ساتل کیږي. |
| **Allergies and dietary restrictions (gluten-free, vegan, halal, kosher, etc.)**<br>We want all students to be able to take part in the School Lunch Program and have tried to create lunch options that work for as many students as possible | **الرجۍ یا حساسیتونه او د خوړو محدودیتونه (له ګلوټن څخه پاک، ویګن یا د سبزي خوړونکو لپاره، حلال، کوشر، او نور)**<br>موږ غواړو چې ټول زده کوونکي د ښوونځي د غرمنې پروګرام برخه شي او هڅه مو کړې چې د امکان تر حده د ټولو زده کوونکو لپاره مناسبې غرمنې برابرې کړو. |
| When ordering, families can see the ingredients in each meal and make the best decision for their child. We can't guarantee that meals are 100 percent allergen free due to the risk of cross-contamination. | کله چې د غرمنۍ فرمایش ورکوئ، کورنۍ کولی شي د خوړو هر ډول وګوري او د خپل ماشوم لپاره غوره پریکړه وکړي. موږ د دې تضمین نه شو کولی چې خواړه د ککړتیا د خطر له امله سل په سلو کې له الرجۍ یا حساسیتونو څخه پاک دي. |